# ښاغلی قدرت‌الله «حداد» (۱)

ښاغلی حداد دپښتو ژبی حساس زلمی لیکوال دی ، په پښتو کې ښه‌خوږ نثر لیکی ، په تیره بیا دده ځینی لنډی قصی او تاریخی لیکنی ډیری خوند وری دی .



دپښتنو دپخوانیو ملی قهرمانانو اواولسی مشرانو دژوند دحالاتو د لیکلو سره‌زیاته مینه لری ، اوپه‌دی لاره کې‌ئې ښه‌مطالعه هم کړی ده چه «دلویو ارواګانو » کتاب ئې دهمدی مینی په تحریك لیکلی دی .

اوس ښاغلی حداد د «افغان‌ملت» دجریدی مسئول مدیر او چلوونکی دی ، چه هلته ئې هم په لیکنو کې دپښتنی احساساتو مظاهر لیدل کیږی .

ده پخپله د خپل ژوند پیښې داسی لیکلی دی .

د ۱۳۱۰ هـ ش دتلی دمیاشتی په لسمه می دکابل د آهنګر یو په کوڅه کې خپله لومړی سا واخیسته ، دپښانو دستهکو ټکارز ما ماغزه و ښوروول اوله‌همهغی ورځی ئې زماهوسایی راخرابه کړه ، زمانور وروڼه په میدان کې زیږیدلی خدای‌دی په کرار لری ښه په کرار دی . .

په ۱۳۱۷ هـ زما پلار ښاغلی حاجی سید احمد ځرخی زه یوه لومړنی‌ښوونځی ته بوتلم او وروسته می ډیر ښوونځی و لټول خو بریالی نه شوم چه یو هم تر سره کړم یو خو په حساب نه پوهیدم او دحساب په ساعتوکې می کتاب ته کتل او تراوسه حساب رانه خطا شوی مگر کتاب می ټینګ نیولی چه‌په نتیجه کې حسابی نشوم خو کتابی سړی یم .

په ۱۳۲۸هـ کې دنجات دښوونځی له لسم ټولګی ځخه ووتم او څه موده می دجرمنی دژبی شفاهی ترجمانی دسړك له یوه ماهر سره و کوله اوبیا می دځه لیکو شوق و کړ .

په ۱۳۳۱ د آینی دجریدی د مرستیال په حیث وم چه مخکښې له هغه می دولس له ملی جریدی سره مرسته کوله .

په ۱۳۳۳ هـ کې دپامیر د جریدی سر محرر شوم په هغه مهال په هفته‌کې دوه پلا خپریدله .

په ۱۳۳٤ کې دتجارت داطاقو د خارجی ارتباطو سرکاتب وم چه داقتصاد دجریدی کار می هم کاوه ــ ورپسې دوه کاله چا کار ته نه‌پریښوم او په دغه موده کې می دمخابراتو ښوونځی ته دحق‌الزحمی په توګه دپښتو درس‌ورکاوه .

په ۱۳۳٦کې می بیا دتجارت په اطاقو کې داقتصاد د جریدی د معاون په حیث کار وکړ .

---

(۱) دښاغلی حداد دسوانح باید د «ح» په ردیف کښې راغلی وای خوځنګه چه وروسنه رارسیدلی ده دنامه په ترتیب دلته راوړه شوه .



په ۱۳۳۷کې دمطبوعاتو د ژورنالیزم کورس ته ورغلم او دوه کاله می دوام ورکړ خو یوی خود غرضی هغه کورس لغو کړ .په دغه موده کې می دلویو اقتصادی پوهانو کتاب په پښتو ترجمه کړ چه دوه کاله پر له پسی د اقتصاد په جریدی کې خپور شو .

په ۱۳٤۱کې دسری میاشتی د ټولنی دتبلیغاتو دلوی مدیر دکفیل په‌حیث مقرر شوم ددغه کال دسنبلی په میاشت کې دسری میاشتی دپنځلس زرو ډالرو مرسته می دایران دقزوین زلزله ځپلوته یوړله چه په دغه سفر کې می دتهران اصفهان او شیراز تاریخی آثار او موزیمونه وکتل ، دغه راز علی دشتی د ایرا ن نامتو لیکوال ته‌می دپښتو او پښتنو په برخه کې پوره معلومات ورکړل .

په ۱۳۳۸ کې می‌درحمان‌بابالومړی جایزه واخیسته زما دغه اثر «دپښتونولی دلاری مشال» نومیده .

دوهمه جایزه می په ۱۳٤۱ کې واخیسته چه دغه کتاب د«لویو ارواګانو» په‌نامه ؤ .

ما هیڅکله شعرنه‌دی ویلی ، په پښتو ، دری ، جرمنی او اردو ژبوپوهیږم چه له هریوه ځخه می علمی ګټی اخیستی دی . کوم اثر چه ماپر هغه باندی ډیر کړ او زغملی دی د «احمدشاه‌باباميراث» نومیږی چه له‌هغه مهاله تر اوسه تاریخی پیښی په کښې راغلی دی مگر له نورو تاریخو سره داتوپیر لری چه ما د احمدشاه بابا له مهاله دې خواته راکتلی نو داوسنیو سیاستو خبرو اوموقعیتو کومه اغیزه نه‌منی .

کله کله‌لنډی لنډی قصې هم لیکم چه زما لیکوالی هنری خوا دو غومره ده او بس .

زما دنثر نمونی :

## دعزم خاوند

کړاغی سترګی ئې وزوروغړولی ، له خبرو سره به ئې کوم غړپ چای هم تیر کړ بنه‌ئې توره اوښتی وه ، تابه‌ویل چه‌پرهړو کوئې توربخن پوستکی غوړول شوی دی .

په خبرو کې به‌ئې غاړه جګه نیوله او لیری به ئې کتل ، په‌ډیر غرور به‌ئې داخبره کوله : «ماهغه چاری نه‌دی کړی ، کومی چه‌زماوجدان نه‌دی منلی ، او س می‌هم غاړه سړه ده ، ځکه چه اوه کاله می دسړی وسپنی ځنځیر په غاړه کې پروت ؤ پښې اولاسونه می هم دغه شانی دی . لاځلور کاله می نه وو تیر کړی‌چه دسر وینښتان می توی شول ، (زنې ته ئې لاس ونیو) څو ډکی ږیره راپاتې ده » لږ موسکی شو او زیاته‌ئې کړه :« داهم یوه پانګه بولم چه بل وارته به ئې‌بایلم».

سپین بریتونه ، لغوړن مخ ددردونو لوی داستان ؤ ، کله کله به ئې ګیډه ټینګه ونیوله او ویل به ئې :« په ګیډه کې دننه یو ټب لرم چه هر راز خواړه نه شم خوړلی» . موږهم ترده بل ځبلی دوه بول نه ؤ لیدلی .

خپل دژوند پیښې ئې بیانولې ، هره صحنه ئې تر زغملو پورته وه .

ده ویل چه : «لرغونو پښتنو هیڅ هغه قانون نه‌دی منلی ، څو ددوی له وجدانه سره سم نه‌ؤ برابر شوی . تاسو به لوستلی وی چه دوی عربو سره

یوه نیمه پیړۍ جنګیدلی ، سکندر ، مغلو او انګلیسانو باندی ئې بدی و ر ځی
راوستی . لږ خیر شی دقت وکړی ! هغوی هیڅ قانون و نه مانه ، څو د هغوی
له وجدانه سره سم نه شو » .

ده وویل :« هغوی ظلم او تیری نه مانه ، دبل واك ته ئې غاړه نه ایښوده
خپل واك ئې ساتلی ؤ ، داخو وشوه زیرمی ځمکی ئې هم نه‌وی و یشلی .» .

دی مو وپوښتیده :« ستا دژوند دځوانی پسرلی چه په داسی کړاو کې
تیر شو نو تاته د ژوند څه خوند پاتی دی ؟»

بیائې غاړه جګه کړه اوهماغه خبره‌ئې په خورا غرور و کړه :«ماهغه چاری
نه‌دی کړی ، کومی چه زما وجدان نه دی منلی » .

زیاته ئې کړ ه چه :« په ځان‌باندی‌کړاو منل تر هغه ډیر ښه دی چه‌دغندنی
وړ قانون عملی کړ واو یادبدو مقرراتو دانفاذ وسیله وګرځو » .

ښکاره شوه چه دده دژوند لوی ویاړاوخوند دغه شی دی ، چه ده هغه
چاری نه‌وې کړی . کومی چه دده وجدان نه‌وی منلی .

**دوهمه نمونه :**

## یوښه ملګری (۱)

هر سړی ملګری لری ، خودیوه سړي ملګری څوك نه پیژنی ، دی ځکه‌ټول
پیژنی چه دی دیوه ولس او دیوه هیواد ملګری ؤ .

ده خپله عقیده اوایمان تر هراقتضاء اوایجاب ښه باله، یعنی ده دانه
ویل چه دوخت ایجاب داسی یا څنګه دی ځکه‌دی‌پوهیده‌چه‌یوه‌استعماری بهیر –
داوضاعو ښه واړوله ، پر حقیقت پرده وغوړیده .

هره پیښه ، هره حادثه ده دخپل مسلك سره سنجوله او دهغه له مخی‌به‌ئې
فیصله کوله .

رنځور ؤ ،ددارو درمل فکرورسره نه‌و ،دردمندو خو دطبیب په غم کې‌نه‌ؤ،دناروغی
په بستر کې دپښتون او پښتنواله په فکرکې کښیوتی و .

دپښتنو په‌سیمه‌کې هرچاته به‌چه‌یو دردواوغم ورسیده‌نـوقلم‌به‌ئـې‌واخیست ا و
دماستر عبدالکریم په نامه به یې یولیك ولیکه، دزړه خواله به یې ورسره وکړه،دی
دټولوښه ملګری‌ؤ، اوکله چه مړشو نو هر چا دا احساس کړ چه یو خوږ ملګری
له مینځه ووت :

نشته داسی‌څوك چه دزړه حال ورته بیان کړم
خاوری ننګیالی شول ، زړه می‌توردی له ژوندو ځینــی

ماستر عبدالـکریم چه مړ شو د لرې او برې پښتو نخوا سترو شخصیتو
پوهانو ، لیکوالو دده پر شخصیت ، ادب او لیکوالی ډیری خبرې و کړې هر چا
خپل تاثیرات ولیکل او هریوه دخپلو دوستانه مناسباتو قصی وویلې چه ټول دده
پر ښه ملګر توب ، ښه ژبه ، ښه قلم او ښه اخلاقو باندی دلالت کوی ،د پښتو
په ادب کې دده لیکنی تل ترتله لوړ مقام لری او هر چیری چه دپښتو پر نوی
ادب خبری وشی نو ماستر لکه ستوری په کښې و ځلیږی.

---

(۱) ښاغلی حداد دامضمون دپښتو د نامتو او مجـاهد لیکوال مـاستر
عبدالکریم په مړینه باندی لیکـلی دی ـ خو دماستر صاحب پوره سوانح د «میم»
په ردیف کې ولولی .



دافغانستان د خپلواکۍ تکل په ټول هند کې یو نوی فکر پیدا کړ او دخلکو
دډیرو هیلو او ډاډینی سبب شو ، هم له دغی مبارکی حادثی سره په‌ترکیی کـې
مصطفی کمال استعماری قواوی ماتی کړی او نوې ترکـیه ئـې جوړه‌کـړه چه دا
دواړه پیښی دهغی ورځی ختیځی نړۍ دپاره دډیرو نهضتونو تو منه شوه ، کله‌چه
افغانستان په ختیځ کې دلومړی هیواد په حیث دانګلیس له استعماری کړۍ څخه
ووت نو دآسیا دزړه په حیث ئې دخپلواکۍ توده وینه شاوخوا ورسوله .

هغه پښتانه چه دډیورند د کرښې په وسیله دافغانستان له وجوده بیل شوی
دیوه درد اورنځ احساس کوی چه دماسترعبدالکریم معنوی ژوند له دغی پیښې
څخه متأثر دی .

ماسټر عبدالکریم په ۱۹۰۸ ع کښی دمنتظر خان په کور کښی وزیږیدشاو
خواه سیمه توره تیاره وه ، زموږ ملګری دړنا په یوه څرك پسی ګرځیده او همدا
چه خپلواك ښوونځی جوړ شو نو عبدالکریم هغه ته ورغی ، نورو ناپوهانو ددغه
ښوونځی غند نه کوله او نژدې و ، چه دغه یوازنی ښوونځی دپښتنوله دغی سیمی
ایسته شی . ځکه نا پوهانو ویل داهغه ځای دی چه خلك له مسلمانۍ څخه اړ وی
نو پښتنو مشرانو له دغه ښوونځی څخه یو ه ډلګۍ جوړه کړه ، کلی په کلی به‌ئې
ګرځوله ،څو خلك و پوهیږی چه دوی ښه زده کړه کړی ده ، په هره غونډه کې
به معصوم عبدالکریم ودرید او دقرآن څو آیتونه‌به ئې و لوستل بیا به ئې هغه‌په
پښتو اړول او ګرمه به‌ئې ددوی په غاړه کې وراچوله دده خوند ناك غږ او ښـه
وینا له همهغی ورځی دولس غوږ تـه رسیدلی او ښوونځی ئې له بربادۍ څخـه
ژغو رولی دی او همدا ورځ ده چه له ده سره دولس ملګر تیا شروع کیږی .

وروسته‌چه دپښتنوپه سیموکې دوینااو ، او غونډوډود پیداشو، نودامهال
پښتنو شاعرانو او لیکوالو خپل اشعار او لیکنی ده ته وړکولې چه دی ئې په‌خپل
اغیزه ناك غږتوروته واوروی اودادی چه دغه ښه ملګری خپل دملګرتیا دوهمی پوړۍ
ته خیژی .

عبدالکریم په خپلواك ښوونځی او ددهلی په جامعه ملیه کې زده کـوونـکی
او ښوونکی ډلی ډلی وربلل او هیڅکله چا یوازی نه لیده ، کله چه له زده کـړی
خلاص شو خدایی خدمتګارو سره ملګری شو او دری کاله له خپلو ملګرو سره
بندی پاتی شو .

وروسته له هغه دوستانو دی په خپلواك عالی ښوونځی کی ماسټرو ټاکـه
چه له همدغی ورځی ماسټر عبدالکریم وباله شو .

ښه ملګری وروړو نورو ملګرو سره یوې نوی پولی ته ورسیدچه شاګردو،
استادشو. دپښتو دخوږی ژبی تکړه لیکوال دی نه یوازی لیکوال اواستادچه سیاسی
ورځپاڼه لیکوونکی هم دی اوس له ټول ولس سره ملـګرتیا کـوی. د «ننی دنیا»
تر کلیشی لاندی‌ده داسی مقالی ولیکلی‌چه «پښتون» اخبارئې تل‌ترتله خپل‌کوګل کی
ساتی اودپښتو ادب اونثر ورباندی ویاړی‌چه په‌پای‌کی دهمدغو لیکنوله اثره نیول
کیږی اوداپلا زموږ ملګری دخصوصی مطالعې له‌لاری دپنجاب له پوهنتون څـخه
د«بی – ای» بری لیك اخلی .

له هرې ډلی سره. چه انګلیسان ورسره مخالف دی دده ملـګرتیا ورسره
ټینګه ده اوخپل ولس هیڅکله دخپلواکی‌په تکـل‌کـی یوازی نه پریږدی نودسیول
نافرمانۍ په سلسله‌کی بیاله ملګروسره حبس‌ته ولاړ، په ۱۹۴۵ دانګلیسانوپه نوی

تجویز له بنده خلاص شو، دغه مهال د«سانګ اورګانیزشن» مشر وټاکل شو.
څه موده وروسته داموسسه‌هم داستعماری مقاماتو خوښه‌نه شوه اوله‌مینځه ولاړه اوبیا یوبل ځای آمر مقرر شو .

په ۱۹٤۸ چه پاکستان نوی وزیږولی شو دهغه کال دجون په میاشت کی دپاکستانیانو له خوا نورو ملګروسره بیاونیول شوچه داپلا ښنه ملګری ناروغ‌کیږی څکه شپږکاله دیوه لومړنی هیواد پ‌ه‌بندکې‌چه پ‌ه‌خپله دژوند په اوله پړاو کی دی تیروی .

مګر ماسټر بیا دخپلو ملګرو ملګرتیا راواخیستله اوپ‌ه‌دېلږ کی‌ئې پ‌ه‌۱۹۵۸کی دپاچا خان یوپیغام دپښتون دولس په نامه چاپ اوخپور کړ، دائی هم‌هغه ته جرم‌وباله چه دا څل ښه وربړول شو، دنورو ملګرو په مرسته ناروغ ملګری راخلاص شو خو څرنګه چه دخپلو ملګرو یوخوږ او منلی ملګری ؤ نو دملی ګوند جنرال سکرتر وټاکل شو.

دی دیوه صاف زړه خاوندو، تل به موسکی‌و، اوپه نرمه ژب‌ه ئې‌خبری‌کولې.

دغه ښه ملګری ددوو ناروغیو ښکار شوچه دواړه‌ئې عالم‌تباه ناروغی وی (سل اوسرطان) مګرتردې دواړو مریضیو دپاکستان حکومت لاټینګ نیولی و- ترڅوچه د۱۹٦۱ کال دجنوری دمیاشتی په نولسمه دده اوږده ملګرتیا سرته‌ورسیده اونور ملګری ئې دغم په تغر کښیناستل . (۱)

---

(۱) دامضمون دحداد د «لویو ارواګانو» له‌کتاب څخه چه‌په ۱۳٤۱ کال‌کښی دوهمه هنری جایزه واخیسته رالیکل شوی .

